مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

رنا ګل اریوبزی
۲۰۲۳/۰۳/۰۵

# په اسلام کې د علم د بې ارزښته

## کولو پر لور د طالبانو ناکامې هڅې

نن سبا دليکنو،څېړنواو دبحث پريماني موضوع ګانې شته دي اوکيدای شي چې يوڅه په وليکل شي، خو زما په اند تر ټولومهمه او دپام وړموضوع په هيواد کې دپوهې، زده کړواو دښځينه جنس دبرخليک موضوع ده. دا موضوع له يوې خوا دافغان ولس دنيم بدن موضوع ده چې دحاکمې دستګا له خوا دفلجولو سره مخامخ دی اوله بلې خوا په هيواد کې دپوهې اوزده کړو، په تيره بيادساينس اوتکنالوژۍ دبرخليک يانې ژوند ته د نجات ورکولوموضوع ده چې دسخت ګواښ سره مخامخ دی. هسې خو مو دغورواوپرړو رمباړې اسمان ته پورته کيږي اوچيغې وهو چې په ټوله نړۍ کې زموږ په څيرسپيڅلي مسلمانان، عالمان اواتلان نه پيدا کيږي. خوپه عمل کې وينو چې په ټول هيواد کې لاديوه هوايي ډګردفعال ساتلواوچلولوفني اومسلکي وس نه لرو. دماتې شوې امريکا درونونه مو دهيواد په فضا کې بېغمه او په بشپړه ډاډ ګرځي راګرځي او موږ يې حتی دليدوفني وس نه لرو. ۲۸مليونه هيوادوال مو دلوږې سره لاس او ګريوان دي اوموږ ورته بيله پردېو مرستو دوچې ډوډۍ دورکولو وس نه لرواو دساده ناروغيو د درملۍ توان هم نه لرو. لنډه داچې چرته چې په ټولنيز ژوند کې علم، فن اوکسب ته اړتياوي، موږ يې دوړاندې کولونه عاجز يو. داسې نه ده چې ګوندې په هيواد کې مو طبيعي شتمنۍ نه پيدا کيږي، حقيقت دادی چې موږافغانان دخپل هيواد دطبيعي شتمنيو نه دګټې اخيستوپوهنيز، فنې اومسلکي وس اولازم تخنيک نه لرو، دمعاصرساينس او تکنالوژۍاو دعلومو اوفنونو په بيلا بيلوڅانګوکې دنړۍ دترټولو وروسته پاتې هيوادونوله ډلې څخه شميرل کيږو. خوشال خټک څه نا څه ۳۵۰ کاله وړاندې زموږ په دې نيمګړتيا پوه شوی واوراته په ګوته يې کړه چې:

کاڼي لعل د بد خشان، ګيا کيميا ده
چـې يې نه پيـژني تــه ګنـاه د چا

چې بادشاه يې ستمګرشي خلک خوارشي
خدای دې نه کا ستمګر بادشاه د چا

(د خوشال خټک کليات، ۹-۸ مخونه )

سمه ده چې په دې ګنا کې پردي يرغلګربرخه لري، دتاريخ په اوږدوکې کورنيوچارواکوهم په دې برخه کې خپل مسوليت په صداقت نه دی ترسره کړی. په دې ګنا کې هغه ډلې هم درنه برخه لري چې ځانونه يې علما کرام بلل او بولي، خو داسلا په مبين دين کې يې دعلم ارزښت اومقام يا درک ګړی نه دی، يا يې منحريف کړی او يايي ددې مسلمان ولس نه پټ ساتلی دی او په کلواوباندوکې به يې خلکو ته ويل چې:« هغه څوک چې خپل اولاد ښوونځي ته ليږي، اوه نسله به ددوزخ لمبې زغمي.» د دې په ځای چې په خپلو تيروتنو ځانونه پوه او هغه اصلاح کړو، داوسنې ناورين، بې وسۍ او بې وزلۍ نه دراتلونکي نسل دساتنې له پاره په خپل ټول ځواک دهغوی دزده کړو شرايطود ښه کولوپه لورهلې ځلې وکړو، په لاس کې شته امکانات هم له منځه وړو، دجونو له پاره جوړښوونځي دښځينه ښوونکو سره د جونو په مخ تړو، دې داسلام ضداودشرم وړعمل ته اسلامی مشروعيت لټوواودافغاني غيرت نوم هم ورکوو. د ۱۹۹۶م – ۲۰۰۱م کال پورې دطالبانو حکومت دښځينه جنس په زده کړو او کار باندې بنديزولګاوه اوپه دې کارېې په دوهمه حکومتولۍ کې هم لاس پورې کړ. دوی د۲۰۲۲ م کال دوري مياشتې په دريمه نيټه، چې دنوي تعليمي کال لومړۍ ورځ وه اوجونه دزده کړو په هيله په خوشالۍ خپلو ښوونځيو ته تللې وې، هغه بيرته له ښوونځيوراوباسلې او



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په خير و لولئ

کورونو ته يې ستنې کړي.طالبانو اعلان وکړچې تر« امرثاني » پورې دجونو پر مخ دشپږم ټولګي نه پور ته ښوونځي تړل شوي دي. دوی ددې کړنې دمشروعيت له پاره دا دوه دليلونه وړاندې کړل:« لومړی دشريعت مطابق شرايط بربريدل اودافغاني دوداوکلتورمطابق فضا را منځ ته کيدل.» د اسلامي شريعت له مخې دعلم زده کړه په هرمسلمان ( نراوښځه ) بې له کوم مکاني اوزماني قيد اوشرط څخه فرض دی. په دې برخه کې دخيټې نه دشرايطوړايستل اووړاندې کول داسلامي شريعت اودافغاني دوداو کلتور سره ډغرې وهل دي. دزده کړوپه ضد دعملي ګامونو ترڅنګ ځينوطالبانوداهڅې هم وکړې او لا يې کوي چې داسلام په مبين دين کې دعقلي علوموارزښت اومقام را ټيټ کړي اوحتی له منځه يې يوسي. دبيلګې په توګه دطالبانو رئيس الوزرا ملاحسن آخوند وايي چې په اسلام کې دشرعي علوموزده کړه فرض ده، خو د دنياوي علومو زده کړه مباح ده. د ده ترڅنګ ځنې نور طالبان هم ولاړدي او دهغوی له ډلې نه يوهم ملا خالد حنفي دی. دی هم په يوه وينا کې د عقلي علوموزده کړه مباح بولي، يانې نه ګټه لري او نه زيان رسوي. ويل کيږي چې دطالبانوداډله په دې برخه کې دخپل مشرملاهبت اله متابعت کوي او ټول په ګډه په دې عقيده دي چې که چرې دا زده کړې داميرالمؤمنين دامر سره په ضرب کې واقع شي، نو داميرالمؤمنين امر واجب ګڼل کيږي. دا هلې ځلې ځکه ناکامې پاتې کيږي چې ديني بنسټ اومشروعيت نه لري، له ګيډو راايستل کيږي، نه يوازې داسلامي لارښوونو سره په تضاد کې واقع کيږي بلکې دټول عالم اسلام اوحتی د ډيروطالبانو دمخالفت سره هم مخامخ کيږي. شيرمحمدعباس ستانکزي څو ځله په خپلو ويناوو کې په ډاګه کړه چې زده کړې په اسلام کې په ټولو ( نارينه اوښځينه ) مسلمانانو فرض دي اوبايد دهيڅا پر مخ دښوونځيو دروازې ونه تړل شي. محترم ستانکزي صاحب داهم وويل چې داميرالمؤمين هرامرواجب نه دی، دهغه يوازې هغه امرونه واجب دي چې دخدای ( ج ) او درسول ( ص ) په لار برابر وي. دطالبان دفاع وزيرملا يعقوب مجاهد وايي چې دملت مشروعې غوښتنې بايد ومنو او دکورنيو چارو وزير بيا دلته اوهلته دجونوپرمخ ترشپږم ټولګي پورته ښوونځيو دروازو په تړلو اودقدرت په انحصارنيوکې کوي. ځنې نور وزيران اودطلبانو لوړپوړي چارواکان هم دخپل اميردتعليمي سياست نه يو څه سر ټکوي خودعباس ستانکزي په شان په صراحت دحق اوازنه پورته کوي. په هرصورت هغه طالبان چې دعلم زده کړه مباح عمل بولي نه يوازې دخپلې ادعا له پاره مستند شرعي مشروعيت نه شي پيدا کولی اوڅه يې چې ويلي دي له ګيډې يې راباسلي دي، خکه چې داسلام مبين دی دپوهې اومعرفت دين دی چې دجهل اوظلمت په ضد رانازل شوی دی اودا دين دعدالت اومدنيت دين دی چې دظلم اوبربريت په ضد رانازل شوی دی او لوی پروردګار دجبرائيل ( ع ) په واسطه په لومړنيو کليموکې داسلام پيغمبر ( ع ) ته دا پيغام ورليږلی دی چې:« ولوله دهغه دخدای په نامه چې جها ن يې پيدا کړی دی.» او ورپسې لوی ذات په قران کريم کې د« اعلموا » په لفظ خلک څوځله زده کړو ته رابللي دي. رسول ( ص ) دخپل څښتن دارشاداتو په پيروۍ فرمايلي دي چې:« دعلم زده کړه په هر مسلمان، نراوښځه، فرض دې.» بايد هيرنه کړوچې په دې اونورو ټولومبارکواياتونواوحديثونوکې علم په عام مفهوم کارول شوی دی چې لنډ اوساده تعريف يې « په يوڅه پوهيدل اوحقيقت ته رسيدل » دي. دلته دا قيد او شرط نه شته چې مرام کوم علم اود څه شي په هکله علم اويا دعلم کومه ځانګه ده، هدف زده کړه ده، دپوهې تر لاسه کول او په موضوع کې حقيقت ته ځان رسول دې. دا کار داسلام په مبين دين کې بې له کوم جنسي قيداوشرط په نراوښځه فرض دی.وينوچې علم داسلام په مبين دين کې ډيرلوړمقام اوارزښت لري چې دخالد حنفي اوحتی دمحترم هبت اله په فتواګانو نه شي راټيټيدلی. رسول ( ص ) فرمايي:« چاچې دعلم لارخپله کړه هغه دجنت لار ونيوه.» او په بل حديث شريف کې راغلي دي چې:« چاچې دعلم دزده کړې په لار کې خپل ژوند له لاسه ورکړهغه شهيد دی.» وينو چې په دنيادعلم زده کړه داخرت له پاره دهرمسلمان يوه توښه ده او په دنيا کې دازاد اوبسياژوندوسيله ده، دعلم سره ژوند په دنيا کې کاميابي ده، سرلوړي ده اولکه څنګه چې رسول ( ص ) فرمايلي دي « بې علمه عمل تباهي ده.» حقيقت دادی چې کوم ولسونه چې دعلم نه بې برخې پاتي دي دبېوزلې، لوږې، ناروغيو او بې وسۍ سره مخامخ دي اوله دې امله يې خپلواکي هم هر وخت ګواښل کيږي. دا ښه ده چې دطالبانودفاع وزيردې ته پام شوچې:« دهيواد اسمان مو اشغال دی، زه هم ورته ګورم، ته هم ورته ګورې اوله لاسه موهيڅ پوره نه دي» رښتيا خودادی چې نه يوازې دخپل هيواد اسمان نه شوساتلی بلکې يو هوايې ډګرهم په خپلومټو په بشپړه توګه نه شو چلولی. هوبايد خپلې نيمګړتياوې، وپلټواو راوسپړواو کنه نوميندلی نه شو اوچې ويې نه مومو، نو دانيمګړ تياوې له منځه وړلی نه شو، چې له منځه يې يو نه سو، له بې وسۍ اوبې وزلۍ ځان ازادولی نه شو. دحل لار دا نه ده چې دطالبانو په شان دهيواد نيم بشري ځواک دعلم دزده کړې نه منع کړو. دحل لارراته رسول ( ص ) په ګوته کړې ده. هغه مبارک له هر مسلمان، نراوښځې، غوښتي دي چې:« له مهد ( زانګو ) نه تر لحد ( قبر ) پورې دعلم زده کړه وکړی.» او په بل مبارک حديث کې يې ټينګار کړی دی چې:« علم زده کړی که په چين کې وي هم.» په هغه وخت کې نه چين اسلامي هيوادواو نه اسلامي علم اوعقيده هلته رسيدلي وو، خو چينايي پوهې، کسبونواوکمالونودنړۍ په لويو برخوکې ډيرشهرت درلود او رسول ( ص ) دا دخپل امت په خيرګڼله چې ورڅخه برخمن شي. دالارښوونې راښيي چې دينې اوعقلي علوم دواړه داسلام په مبين دين کې برابرمقام او ارزښت لري، د دواړو زده کړه په هرمسلمان، نراوښځې، دهغوی په ټول عمراوپه هرمکان کې چې وي، فرض ده. له دې امله بې بې عائشه صديقه ( ض) ټينګار کوي چې:« دچراغ له رڼا ګټه واخلی اودې ته مه ګوری چې دچا په لاس کې دی.» هو! دا دټولو مسلمانانو، دښځواونرانو، دجونواوهلکانوديني حق



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

اومکلفیت دی چې دعلم له چراغ نه، د هرچا په لاس کې، دهیواد په هرولایت کې اودنړۍ په هرهیواد کې چې وي، ګټه واخلي.هرڅوک چې په هره بهانه د چا په مخ دعلم دزه کړې مخه نیسي اوداسلا په سپیڅلي دین کې دعلم مقام اوارزښت راټیټوي ددین نه بې خبره اویا لږ ترلږه پوره ملا نه دی، نیمه ملا دی اودنیمه ملا په هکله خوشال ختک راته ویلي دي چې:

نیــم مــلا، بــلا د د ین ا و د ا یــمان دی
نیــم طبیب خطره د تن دی، هم د ځان دی

دندا محمد ندیم او خالد حنفی په شان نیمه شیخان اوملایان چې دعلم اوزده کړو سره کومې لوبې کوي په حقیقت کې له دین خپله بې خبري دعلم اودافغان ولس په وړاندې ژوره عقده اودښمني ننداري ته وړادي کوي، خپل ایمان اودافغان ولس راتلونکي دخطرسره مخامخ کوي اوزیان وررسوي، خودا باید په یادولري چې افغانان په دین اودنیا کې دعلم په ارزښت پوهیدلي دي اوپوهیږي چې:

علم دین دی هم دنیا دی
د با د شا هم د ګــدادی

چې فقیروي علم زده کا
خدای یې لویه مرتبه کا

په هرنیک په بد اشنا شي
د دنیا، د دین بادسا شي

مسلمانان دهغوی په ډله کې افغانان په دې پوهیدلي دي اوپوهیږي چې علم زموږ خالق ( ج ) اودهغه رسول ( ص ) ستایلی او پرموږ فرض کړی دی، ځکه پرمخ ځي، هیڅوک یې درولی نه شي.علم دنړۍ په سطحه په هرو څلورو کالو کې دوه برابره کیږي، جهل ماتیږي او ورکیږي، دعلم په وړاندې دریدل نه شي. په دې حقیقت یوازې ځنې طالبې شیخان نه پوهیږي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ